# د وفا د کور سړے

د محمد اقبال اقبال په درناوي

شعيب صادق

اقبال چې د الفت او د وفا د کور سړے دے
اقبال چې د ښائست د محبوبې د ټيک غمے دے
اقبال چې ئې د ذهن په ورشو کښې لا سپرلے دے
اقبال چې د فطرت د ښکلاګانو لېونے دے
اقبال د محبت د اوره نۀ دے تښتېدلے
اقبال د خپل اقرار له ځايه نۀ دے خوځېدلے

يو داسې لېونے دے چې مسکا ئې مجبوري ده
يو دا رنګې پتنګ دے چې رڼا ئې مجبوري ده
مجنون د ساده مينې دے ليلي ئې مجبوري ده
د يار په مينه ډک زړۀ دے درزا ئې مجبوري ده
په زړۀ کښې ئې مدام د محبت شمع بلېږي
ماحول پرې ټول رڼا دے خو په خپله ويلې کېږي

خوي بوي کښې د ښاغلو درويشانو نه کم نۀ دے
اخلاص کښې د سپېڅلو انسانانو نه کم نۀ دے
په مينه کښې د ښو ښو مئينانو نه کم نۀ دے
په زړۀ باندې ژوندے دے د ځوانانو نه کم نۀ دے
پښتون دے غېرتي دے د يارۍ په چل پوهېږي
د وخت د هر دستور او د سيالۍ په چل پوهېږي

د مينې محبت يو بې پاياوه سمندر دے
په عزم اراده کښې خوځېدلے نۀ دے غر دے
په ګرده پښتونخوا کښې دے ښکاره لکه د نمر دے
جُثه ئې د ګلاب ده قد قامت ئې صنوبر دے

محفل د پښتنو کښې د يارانو سره يار دے
د هر محفل ښکلا ده او د هر محفل سينګار دے

ملال دے چرته نۀ شي وي دې ټول عمر خوشحاله
سپرلي چې ئې مسکا ته وي ټول عمر له اتاله
ازاد دې وي همېش له د غمونو د جنجاله
ښائسته ده پرې سالمه پښتونخوا وي بې مثاله
صادقه د اقبال په شان پښتون به پېدا نۀ شي
بل داسې د پښتو ژبې مجنون به پېدا نۀ شي

مشتاق مجروح يوسفزے

## اقبال

ورک مئين چې په پښتو او پښتنو وۀ
چې خاوند د لوړو لوړو حوصلو وۀ

د اندېښ او د اسرار د چوتي يار وۀ
دړد ېدونکے چې په خپلو هم پردو وۀ

چې د دړد سره ياري پالل ئې زده وو
آموخته چې د زبېرګو او د سلګو وۀ

کۀ په تن باندې روغ شوے چرې نۀ وۀ
خو ښښتن د ځوانو ځوانو ولولو وۀ

نن هغه اقبال زمونږه نه جدا شو
نازنين چې هم د لويو هم وړو وۀ